UNITED NATIONS
AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو دسرمنشي د مرستیالې په مشرۍ پلاوی کابل ته راورسید**

**نیویارک، د ۲۰۲۳ کال د جنوري ۱۸ مه** - د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالې امنې محمد، د ملګرو ملتونو د ښځو د برخې مشرې سیما بهوس او د سولې ټینګولو، سوله ساتنې او سیاسي څانګې لپاره د سرمنشي مرستیال خالد خیاري د سیمې د پراخ سفر په لړ کې تیره ورځ کابل ته ورسیدل.

دسرمنشي په استازیتوب، دوی د ملګرو ملتونو له کارکوونکو، له ملي او نړیوالو نادولتي موسسو (غیر دولتي موسسو) او افغان میرمنو سره یو لړ ناستې ترسره کړې ترڅو وضعیت وڅیړي، له هغوی سره پیوستون څرګند او د واکمنو چارواکو له وروستیو تصمیمونو وروسته د ښځو او میرمنو د حقونو دښه والي او خوندیتوب پر لارو چارو خبرې وکړي.

دوی د بشري حقونو، په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو د حقونو د خوندیتوب پر اړتیا ټینګار وکړ، اودوی د ځینو هغو ورکړل شویو معافیتونو له کبله هڅیدلي چې د یو لړبشردوستانه فعالیتونو بیا پیل کیدو ته اجازه ورکړل شوې کوم چې له بندیز وروسته اغیزمن شوي وو. په عین وخت کې دوی د اصولو پراساس د لا د پرمختګ د دوام پر اهمیت ټینګار وکړ.

پلاوي همدارنګه پردغې مسلې او د افغانستان لپاره د اوږدمهاله لیدلوري په تړاو له واکمنو چارواکو سره ښکیلتیا پیل کړې.دغه ماموریت به په راتلونکو ورځو کې په سیمه کې لیدنو ته دوام ورکړي، او موږ به نور تازه معلومات له ترلاسه کولو وروسته درسره شریک کړو.

* * *